رواداری
RAWADARI

د برابر او سوله ایز
افغانستان لپاره

**مطبوعاتي اعلامیه**
**۲۰۲۳ د مارچ ۸مه**

د مارچ د اتمې په مناسبت، رواداري د افغانستان د آزادۍ غوښتونکو ښځو د نه ستړي کېدونکو مبارزو درنښت کوي. د افغانستان ښځې په ټوله کې په یواځې ځان او له ټولو ګواښونو او ننګونو سره، سره په زړورتیا او ژمنتیا سره د خپل هیواد د راتلونکي لپاره مبارزه کوي. د ښځو د پیوستون په نړیواله ورځ، رواداري د ښځو د انساني غوښتنو د پوره کېدو په موخه د افغانستان له ښځو سره پر ولسي او نړیوال پیوستون ټینګار کوي.

د افغانستان ښځې په تېرو ۱۸ میاشتو کې د طالبانو د سیستماتیک او هدفي توپیر په پایله کې له خپلو ډېرو لومړنیو حقونو او آزادیو څخه محرومې شوې دي. اوس چې د طالبانو د حاکمیت نږدې دوه کاله تیریږي، له بده مرغه موږ افغانستان کې د بشري حقونو د ټولو لاسته راوړنو د له منځه تللو لکه د تېرو نافذو قوانینو لغوه کېدل او وریسې د ښځو د مدني حقونو د ملاتړ لپاره د قانوني میکانیزمونو د له منځه تللو شاهدان یوو، چې دا چاره په بېلابېلو ابعادو کې د تاوتریخوالي او د ښځو د مدني او سیاسي آزادیو د نقض لامل شوې ده.

له بلې خوا، په تېرو ۱۸ میاشتو کې د ښځو پر اساسي حقونو د محدودیت لګولو او په عمومي چارو کې د ښځو د ګډون د مخنیوي په موخه د طالبانو له خوا یو شمېر مقررات او فرمانونه اعلان شول، چې په پایله کې یې سلګونه زره ښځې او نجونې د تعلیم او کار له حقونو محرومې شوې. تر دې چې روغتیایي مرکزونو ته هم د ښځو لاسرسی محدود شوی؛ ځکه طالبانو د ښځو پر آزاد تګ را تګ هم سخت محدودیتونه لګولي دي.

په افغانستان کې ښځینه فعالانې دغو محدودیتونو ته په ځواب کې په یواځې ځان خو په زړورتیا سره درېدلې دي. د حقونو او جنسیتي برابرۍ لپاره د افغانو ښځو په دې زړوره مبارزه کې، د اسلامي هیوادونو رهبران او د سیمې او ټولې نړۍ رهبران منفعل څارونکي ؤ، او یا یې یواځې په اعلامیو او ویناوو بسنه کړې. سره له دې، په افغانستان کې ښځینه او نارینه فعالانو خپلې پرله پسې مبارزې ته دوام ورکړی. پر سړکونو د لاریونونو په جوړولو، د هنري آثارو په تولید، د آنلاین او پټو ښوونیزو ټولګیو په جوړولو، د کتابخانو په جوړولو، په ملي او بین المللي کچه د عدالت غوښتونکو او د نورو اعتراضي او رون آندي فعالیتونو په ترسره کولو سره، ښځې د خپلو بنسټیزو حقونو د بېرته ترلاسه کولو په لټه کې وي. یو شمېر نارینه فعالان هم په مدني نافرمانۍ او د ښځو د زده کړو د حق لپاره د عدالت غوښتنو له لارې له دې مبارزې سره یوځای شوي دي. خو دې مدني او سوله‌ییزو هڅو ته د طالبانو ځواب تهدید، ټکول، نیول او د فعالانو او لاریون کوونکو شکنجه کول ؤ. اوس هم یو شمېر دغه فعالان او معترضان په توقیف کې دي او د برخلیک په اړه یې دقیق معلومات په لاس کې نشته.

روادارى
RAWADARI

د برابر او سوله ایز
افغانستــــان لپاره

پــه داسې وضعیــت کــې او د ښــوونځیو او پوهنتونونــو د پــرلنیو سمســترونو د پیــل پــه درشــل کــې، د افغانســتان ښــځې او نجونــې د خپلــو حقونــو د لاســته راوړلــو لپــاره پــه ملــي او بیــن المللــي کچــه معنــا لرونکــي او اغېزنــاک پیوســتون تــه اړتیــا لــري.

پــه ملــي کچــه، متنفذیــن، علمــا، ســوداګر او د خصوصــي ســکتور اســتازي بایــد پــه ټولیــز او هدفــي ډول د ښــځو او نجونــو پــر مــخ د ښــوونځیو او پوهنتونونــو د بیــا پرانســتلو لپــاره لازم فشــارونه وارد کــړي، دا ډلــې او اقشــار بایــد د اوســني غیرعادلانــه وضعیــت د بدلــون لپاره خپــل ټولنیــز او اقتصــادي نفــوذ او قــدرت وکاروي. د ښــځو او نجونــو د تعلیــم لپــاره پــه اوســنیو شــرایطو کــې ملــي پیوســتون د بدلــون تــر ټولــو کارنــده او ځواکمــن ابــزار دی. د ښــځو او نجونــو د تعلیــم او کار بندیــدل بــه د افغانســتان د ټولــو خلکــو او د دې هیــواد د پراختیــا او پرمختــګ د بهیــر لپــاره زیانمنوونکــي او اوږدمهالــې نــاوړه پایلــې ولــري.

پــه هیــواد کــې دننــه لــه فعالانــو او خوځښــتونو ســره پــه بهــر کــې د مېشــتو فعالانو،افــرادو او اغېزناکــو مدنــي بنســټونو پیوســتون د اوســني وضعیــت بلــه مهمــه اړتیــا ده. د تعلیــم، کار او د ښــځو لپــاره د برابــرو حقونــو غوښــتلو د ګــډې موخــې لپــاره د افغانســتان د مدنــي بنســټونو همغــږي او ګــډ کار، کــولای شــي د افغانســتان وضعیــت تــه د نــړۍ مثبتــه پاملرنــه جلــب کــړي، او د دې هیــواد د خلکــو لپــاره هیلــه بښــونکي وي.

ســربېره پــر دې، پــه افغانســتان کــې د ښــځو د وضعیــت د بدلــون لپاره د نــړۍ پــه کچــه د نړیوالــو بنســټونو او سیاســي رهبرانــو لــه خــوا د معنــا لرونکــي پیوســتون اړتیــا هــم شــته. نړیوالــه ټولنــه بایــد پــه پرلــه پســې توګــه پــه افغانستان کــې د ښــځو او نجونــو د وضعیــت د ښــه والــي لپاره فشــار وارد کــړي. اړونــد نړیــوال بنســټونه بایــد د افغانستان د تنــوع پــه منلــو ســره، د دې هیــواد اړونــد د ټولــو تصامیمــو او پالیســیو پــه برخــه کــې، د هیــواد پــه دننــه او بهــر کــې د افغانســتان لــه ښــځو ســره مشــورې وکــړي.

حاکــم مقامــات بایــد د بشــر حقونــو د منــل شــویو اصولــو او موازینــو د درنــاوي او د فقــر او د افغانســتان د خلکــو د جمعــي کــړاو د کمولــو لپــاره پــر خپلــو قانونــي مســئولیتونو او مکلفیتونــو عمــل وکــړي، او ژر تــر ژره د ښــځو پــر بنســټیزو حقونــو او آزادیــو لګــول شــوي محدودیتونــه لــرې کــړي.

د افغانستان د مبارزو ښځو د شعار د تحقق په هیله «ډوډۍ، کار، آزادي»